## د افغانستان اسلامي امارت

# رسمي جريده

ACKU

**د چاپ نېټه**

**چارشنبه) د ۱۴۲۱ هـ.ق. ربيع الاول د مياشتي پيرېښتمه نېټه**

Ketabton.com

**د امتياز خاوند:د عدليي وزارت**

**شپږمه گڼه**

**پرله پسي نمبر ۷۹۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| د تقنینی سند نوم | | |
|---|---|---|
| گڼه | د بهرنیو چارو وزارت اړوند تقنینی سندونه | مخ |
| ۱ | د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت قانون | ۱ - ۱۸ |
| ۲ | د افغانستان په اسلامی امارت کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او استو ګنی قانون | ۱۹ - ۵۰ |
| ۳ | په بهر کی د افغانستان اسلامی امارت د سیاسی او قونسلی نماینده ګیو د قونسلی څانګو د مصدقه سندونو د قیمت اخیستلو قانون. | ۵۱ - ۵۵ |
| ۴ | د بهرنیو چارو وزارت داوراقو (آرشیف) د اداری مقرره | ۵۶ - ۶۶ |
| ۵ | د افغانستان اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت د اجراآتو او فعالیتونو د تنظیم مقرره | ۶۷ - ۹۳ |
| ۶ | د بهرنیو چارو وزارت د دیپلوماسی د معهد (انستیتیوت) اساسنامه. | ۹۴ - ۱۰۶ |
| گڼه | د پلان وزارت اړوند تقنینی سندونه | مخ |
| ۱ | د افغانستان اسلامی امارت د ملکی تعلیمی او تحصیلی مؤسسو د فارغانو دویش قانون. | ۱۰۷- ۱۱۹ |
| ۲ | په افغانستان کی د کورنیو او بهرنیو غیر حکومتی مؤسسو (N.G.O) د فعالیتونو مقرره. | ۱۲۰ - ۱۳۷ |
| ۳ | په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د مؤسسو د فعالیت مقرره | ۱۳۸ - ۱۴۴ |
| ۴ | د افغانستان اسلامی امارت د پلان وزارت د اجراآتو او فعالیتونو د تنظیم مقرره. | ۱۴۵ ـــ ۶۶۰ |
| گڼه | د احصائیی د لوی ریاست اړوند تقنینی سندونه | مخ |
| ۱ | د افغانستان اسلامی امارت د احصائیی قانون. | ۱۶۱ ـــ ۱۷۴ |
| ۲ | د افغانستان اسلامی امارت د احصائیی د مرکزی اداری د اجراآتو او فعالیتونو د تنظیم مقرره. | ۱۷۵ - ۱۸۹ |
| ۳ | د افغانستان د کمپیوټر د مرکز اساسنامه. | ۱۹۰ - ۲۱۷ |
| گڼه | د کلیو د بیاودانولو او پراختیا د عمومی ریاست اړوند تقنینی سند | مخ |
| ۱ | د کلیو د بیاودانولو او پراختیا د عمومی ریاست د اجراآتو او فعالیتوتو د تنظیم مقرره | ۲۱۸- ۲۲۷ |
| گڼه | د مخدره موادو پر ضد د امارتی عالی هیئت (کمیسیون) د ریاست اړوند تقنینی سند | مخ |
| ۱ | د مخدره موادو پر ضد د امارتی عالی هیئت (کمیسیون) اساسنامه. | ۲۲۸ ـــ ۲۴۴ |
| گڼه | او | مخ |
| ۱ | د غائبو، ورک شویو، مرتدو، باغی او ذمی اشخاصو د مالونو او جایدادونو د ساتنی د څرنګوالی مقرره. | ۲۴۵ - ۲۶۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بهرنيو چارو وزارت د اړوند و تقنيني سندونو د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي امارت د مقام**

**فرمان**

گڼه: (۱۲)

نيټه:۲۲-۳-۱۴۲۱ هـ ق

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء د تائيد پر اساس د بهرنيو چارو وزارت اړوند لانديني تقنيني سندونه توشيح کوم:

۱- د افغانستان اسلامي امارت د تابعيت قانون په (۵) فصلونو او (۴۲) مادو کي.

۲- د افغانستان په اسلامي امارت کي د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوگني قانون په (۸) فصلونو او (۶۱) مادو کي.

۳- په بهرکي د افغانستان اسلامي امارت په سياسي نماينده گيو او قونسليو کي د مصدقه سندونو د بيي (قيمت) د اخيستلو قانون په (۳) فصلونو او (۹) مادو کي.

۴- د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت د اجراآتو او فعاليتونو د تنظيم مقرره په (۸) فصلونو او (۵۹) مادو کي.

۵- د بهرنيو چارو وزارت داوراقو (آرشيف) د اداري مقرره په (۶) فصلونو او (۳۱) مادو کي.

۶- د بهرنيو چارو وزارت د ديپلوماسي د معهد (انستيتيوت) اساسنامه په (۷) فصلونو او (۳۵) مادو کي.

**دوه يمه ماده:**

د دي فرمان په لومړۍ ماده کي درج شوي تقنيني سندونه د توشيح له نيټي نه نافذ او په رسمي جريده کي دي خپاره شي.

**والسلام**

**د اسلام خادم**

**اميرالمؤمنين ملا محمد عمر (مجاهد)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت قانون

ACKU

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان په اسلامی امارت کی د تابعیت د ترلاسه کولو او له لاسه ورکولو د اړوندو مسئلو د تنظیمولو په مقصد وضع شویدی.

**دوه یمه ماده:**

(۱) د افغانستان اسلامی امارت تابعیت د ټولو اتباعو لپاره برابر او یو شان دی.

(۲) هغه شخص چې د دغه قانون له مخې د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ولری، افغان بلل کیږی.

**دریمه ماده:**

په دغه قانون کی لاندی اصطلاح ګانی لاندینی معناوی لری:

۱- د افغانستان اسلامی امارت تابعیت: د افغانستان له اسلامی امارت سره د شخص سیاسی او حقوقی اړیکی.

۲- بهرنی: هغه شخص دی چی د افغانستان اسلامی امارت تبعه نه وی او یا پرته له تابعیته شخص.

۳- د تابعیت تر لاسه کول: د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت تر لاسه کول د هغه شخص لخوا چی غوښتونکی ئی وی.

۴- د تابعیت له لاسه ورکول: د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت ترک کول یا سلب.

**څلورمه ماده:**

د افغانستان اسلامی امارت تبعه، هغه څوک دی چی:

۱- د دغه قانون له فاقد له نافذیدو مخکی افغانی تابعیت ولری.

۲- د دغه قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامی امارت تابعیت تر لاسه کړی.

**پنځمه ماده:**

په بهرکی د افغانستان اسلامی امارت د تبعه استوګنه، د ده د تابعیت دله لاسه ورکولو سبب نه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږمه ماده:**

(۱) د افغانستان د اسلامی امارت تبعه، په بهرکی د امارت تر حمایت لاندی دی.

(۲) د افغانستان اسلامی امارت تبعه بهرنی دولت ته نه سپارل کیږی.

**اوومه ماده:**

هغه شخص چی د دغه قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامی امارت تبعه وی، د دوه ګونی تابعیت په درېځ کی نه شی راتلای.

**اتمه ماده:**

هغه شخص چی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ونلری، او د بهرنی تابعیت مثبت معتبر سندونه هم ونلری، بی تابعیته شخص بلل کیږی.

## دوه یم فصل

## د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت تر لاسه کول

**نهمه ماده:**

(۱) د افغانی تابعیت تر لاسه کول، سلب او له لاسه ورکول، پدی شرط دی چی له اسلامی حکمونو او اصولو سره سمون ولری.

(۲) هغه شخص چی د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو او یا په بهرکی له هغه مور او پلارنه چی د افغانستان تابعیت ولری، وزیږیږی د افغانستان اسلامی امارت تبعه بلل کیږی.

**لسمه ماده:**

(۱) که چیری د ماشوم د زیږیدو په وخت کی د هغه. له والدینو څخه یوئی د افغانستان اسلامی امارت تبعه اوبل ئی بهرنی تبعه وی، ماشوم په لاندی شرائطو د افغانستان اسلامی امارت تبعه بلل کیږی:

۱- د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی زیږیدلی وی.

۲- د افغانستان اسلامی امارت له قلمرو څخه په بهرکی زیږیدلی وی خو مور او پلار او یا یوئی د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی دائمی استوګنه ولری.

۳- ماشوم د افغانستان اسلامی امارت له قلمرونه بهر زیږیدلی وی او په عین حال کی والدین ئی د افغانستان اسلامی امارت له قلمرونه په بهرکی دائمی استوګنه ولری او د دواړو په موافقه ماشوم ته د افغانستان اسلامی امارت تابعیت انتخاب کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) که چیری اولاد د اتلس کلنی عمر له بشپړولو وروسته تر شپږو میاشتو پوری د خپل والدینو د پخوانی تابعیت د منلو په هکله لیکلی غوښتنلیک وړاندی کړی، د هغه افغانی تابعیت د غوښتنلیک د منظوری له نیټی نه سلبیږی.

**یوولسمه ماده:**

که چیری د ماشوم د زیږیدو په وخت کی د ده مور یا پلار د افغانستان اسلامی امارت تبعه او بل ئی بی تابعیته وی او یا تابعیت ئی تثبیت شوی نه وی، ماشوم د دی له په پام کی نیولو پرته چی د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو او یا په بهرکی زیږیدلی دی، د اسلامی امارت تبعه کیږی.

**دوولسمه ماده:**

هغه ماشوم چی د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی وموندل شی او د ده د والدینو د تابعیت مثبت، معتبر سندونه هم موجود نه وی، د افغانستان اسلامی امارت تبعه بلل کیږی.

**دیارلسمه ماده:**

هغه ماشوم چی د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی له بهرنیو والدینونه وزیږیږی د اتلس کلنی عمر له بشپړولو وروسته او د افغانستان په اسلامی امارت کی د دائمی استوګنی په نیت د افغانستان اسلامی امارت تبعه بلل کیږی، پدی شرط چی د اتلس کلنۍ عمر له بشپړولو وروسته تر شپږو میاشتو پوری د بهرنی دولت د تابعیت غوښتنه ونه کړی.

د بهرنیو هیوادونو د سیاسی او قونسلی نماینده ګیو او نړیوالو سازمانونو د هیئتونو د رئیسانو او غړو اولادونه له دغه حکم نه مستثنی دی.

**څوارلسمه ماده:**

بهرنی اشخاص د نژادی، ژبنی، جنسی او تحصیل د اړیکو له په پام کی نیولو پرته د افغانستان اسلامی امارت په تابعیت منل کیدای شی.

**پنځلسمه ماده:**

بی تابعیته شخص او بهرنی تبعه په لاندی شرائطو سره د افغانستان اسلامی امارت په تابعیت منل کیدای شی.

۱- د اتلس کلنۍ عمر بشپړول.

۲- د تابعیت تر لاسه کولو په هکله د غوښتنلیک وراندی کول.

۳- د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی څه د پاسه پنځه کاله استوګنه.

۴- د افغانستان په اسلامی امارت کی د استوګنی په موده کی د جنایت نه ارتکاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپاړسمه ماده:**

له زوجینو څخه د یوه له خوا، د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت ترلاسه کول د بل زوج په تابعیت او د هغو په اولادونو باندی چی د اتلس کلنی عمر ئی بشپړ کړی وی، اغیزه نه شی کولی.

**اوولسمه ماده:**

(۱) هغه والدین چی د افغانستان د اسلامی امارت تابعیت ومنی، د هغوی له اتلس کلنی نه د کم عمر لرونکی اولادونه هم د افغانستان اسلامی امارت اتباع بلل کیږی.

(۲) که چیری والدین د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ترلاسه کړی، له اتلس کلنی نه د کم عمر لرونکی اولادونه ئی چی له ده سره د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی اوسیږی، د افغانستان اسلامی امارت اتباع بلل کیږی.

(۳) له اتلس کلنی څخه د کم عمر لرونکی هغه اولادونه چی د افغانستان اسلامی امارت له قلمرونه بهر استوګنه لری، که چیری والدین ئی د افغانستان اسلامی امار تابعیت ترلاسه کړی، کولای شی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت وغواړی او د افغانی تبعه په توګه وپیژندل شی.

(۴) که چیری د دی مادی په لومړی او دوه یمه فقره کی د درج شویو اشخاصو اولادونه د اتلس کلنی عمر له بشپړولو وروسته تر شپږو میاشتو پوری له افغانی تابعیت نه د تیریدو په هکله غوښتنلیک وړاندی کړی، افغانی تابعیت ئی د غوښتنلیک د منظوری له نیټی سلبیږی.

**اتلسمه ماده:**

که چیری بهرنی تبعه د اسلامی شریعت سره سم د افغانستان اسلامی امارت له تبعه سره ازدواج وکړی، د دغه قانون د اوومی مادی د حکم په رعایتولو سره د افغانی تابعیت د ترلاسه کولو په هکله د لیکلی غوښتنلیک له وړاندی کولو وروسته ئی تابعیت د دغه قانون د پنځلسمی مادی په دریم جزء کی د درج شوی مودی له په پام کی نیولو پرته، منل کیدای شی.

**نولسمه ماده:**

هغه شخص چی د مثبته سندونو له مخی یی تابعیته وی او د افغانستان اسلامی امارت له تبعه سره ازدواج وکړی، د افغانستان اسلامی امارت تبعه بلل کیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شلمه ماده:**

(۱) که چیری هغه بهرنی تبعه چی (میره یا میرمنه)ئی وفات شوی وی د افغانستان اسلامی امارت له تبعه سره ازدواج وکړی او د افغانستان اسلامی امارت له تبعه سره ازدواج وکړی او د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ترلاسه کړی، له اتلس کلنی نه د کم عمر لرونکی اولادونه ئی چی له خپل پخوانی ازدواج نه ئی لری او ورسره وی، هم د افغانستان اسلامی امارت اتباع بلل کیږی.

(۲) که چیری هغه بهرنی تبعه چی له خپل (میره یا میرمن) نه جلا شی او د افغانستان اسلامی امارت له تبعه سره ازدواج وکړی او د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ترلاسه کړی، له اتلس کلنی نه د کم عمر لرونکی هغه اولادونه ئی چی له خپل پخوانی ازدواج نه ئی لری او ورسره د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی ژوند وکړی هم د افغانستان اسلامی امارت اتباع بلل کیږی. د دغه شان اشخاصو له اتلس کلنی نه د کم عمر لرونکی هغه اولادونه چی د افغانستان اسلامی امارت په قلمرو کی استوګنه ونلری، د مور یا پلار په غوښتنه چی افغانی تابعیت ئی ترلاسه کړی وی د خپل پخوانی (میره یا میرمن) په موافقه د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ترلاسه کولای شی.

(۳) که چیری اولادونه د اتلس کلنی عمر له بشپړولو وروسته تر شپږو میاشتو پوری له افغانی تابعیت څخه د تیریدو په هکله لیکلی غوښتنلیک وراندی کړی، افغانی تابعیت ئی د غوښتنلیک د منظوری له نیتی نه سلبیږی.

**یو ویشتمه ماده:**

(۱) هغه بهرنی تبعه له افغانی تبعه سره د ازدواج کولو په نتیجه کی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت تر لاسه کړی، د (میره یا میرمنی) د مړینی یا طلاق په صورت کی په خپله خوښه کولای شی د دغه قانون په (۴) ماده کی د درج شوی حکم د په نظر کی نیولو سره خپل پخوانی تابعیت ته ورو ګرځی.

(۲) له اتلس کلنی نه د کم عمر لرونکی هغه اولادونه چی د دغه شان ازدواج په نتیجه کی زیږیدلی وی، د مور یا پلار د مړینی په وخت کی خپل افغانی تابعیت ساتی.

(۳) د طلاق په صورت کی که چیری یو له والدینو څخه چی د افغانستان اسلامی امارت تبعه دی د خپلو اولادونو د تابعیت له بدلولو سره موافقه ونه کړی، د هغوی اولادونه د ۱۸ کلنی سن تر پوره کیدو پوری د افغانستان اسلامی امارت تبعه بلل کیږی.

**دوه ویشتمه ماده:**

د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت ترلاسه کول د هغوی موازینو له مخی هم صورت موندلی شی چی په بین المللی معاهداتو کی ئی اتکل شویدی. په دی شرط چی د اسلامی اصولو او حکمونو څخه مخالف نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم فصل

## د افغانستان  اسلامی امارت د تابعیت ورکړه پریښودل، سلبول او بیرته ورکول

**در ویشتمه ماده:**

د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت ورکول د امیرالمؤمنین واک دی.

**څلور ویشتمه ماده:**

(۱) د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت د پریښودلو په هکله د غوښتنی اعاده کول او منل د وزیرانو شوری په تصویب او د امیرالمؤمنین په توشیح تر سره کیږی.

(۲) د تابعیت سلبیدل د واکمنی محکمی د قطعی حکم له مخی تر سره کیدای شی.

**پنځه ویشتمه ماده:**

د افغانی تابعیت پریښودل په دغو حالاتو کی نشی منل کیدای:

۱- د تابعیت پریښودلو غوښتنلیک ورکوونکی د امارت په وړاندی داسی وجیبی او مکلفیتونه ولری چی هغه ئی نه دی تر سره کړی.

۲- د امارتی ادارو او نورو خدماتی مؤسسو، ګدو شرکتونو او اتباعو په وراندی داسی مالی مکلفیتونه ولری چی نه تر سره کول ئی د پورتنیو مراجعو او اتباعو ګټوته زیان ورسوی.

۳- په جنایت محکومیت او تورنوالی.

۴- د تابعیت پریښودل، د افغانستان اسلامی امارت امنیت ته زیان ورسوی.

**شپږویشتمه ماده:**

د زوجینو د تابعیت پریښودل د بل زوج یا زوجی او د هغوی د اولادونو په تابعیت باندی اغیزه نه کوی.

**اوو ویشتمه ماده:**

(۱) که چیری والدین د افغانستان اسلامی امارت تابعیت پریږدی اولادونه ئی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ساتی.

(۲) که چیری له والدینو څخه یوئی تابعیت پریږدی او بل ئی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت وساتی، اولادونه ئی د افغانستان اسلامی امارت اتباع پاتی کیږی مګر دا چی قانون بل ډول اټکل کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اته ویشتمه ماده:**

که چیری د افغانستان اسلامی امارت تبعه له بهرنی تبعه سره ازدواج وکړی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ئی ساتل کیږی. د دغه شان اشخاصو د تابعیت له لاسه ورکول یوازی د دغه قانون له حکمونو سره سم تر سره کیدای شی.

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) هغه شخص چی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت پریږدی، مکلف دی چی خپل غیر منقول مالونه په هیواد کی و پلوری، که چیری د تابعیت د پریښودنی د تصویب له توشیح وروسته د یوه کال په موده کی خپل غیر منقول ملکیت و نه پلورلی شی، مالونه ئی د امارت په واسطه پلورل کیږی او بیه ئی نوموړی شخص ته ورکول کیږی.

(۲) د دی مادی په لومړی فقره کی درج شوی حکمونه پر هغو اشخاصو باندی هم د تطبیق وړدی چی د دغه قانون د اوولسمی، شلمی او یوویشتمی مادی د حکم مطابق د افغانستان اسلامی امارت تابعیت له لاسه ورکوی.

**دیرشمه ماده:**

د افغانستان اسلامی امارت تابعیت لرونکی شخص چی په غیر قانونی توګه د بهرنی حکومت تابعیت ترلاسه کړی، افغانی تابعیت ئی نه سلبیږی، مګر د دغه قانون د شپږمی مادی په لومړی فقره کی د درج شوی امتیازنه ګټه نه شی اخیستلای.

**یو دیرشمه ماده:**

د شخص تابعیت په دغو لاندی مواردو کی سلب کیدای شی:

۱- وطن او خلکوته د خیانت په جرم محکومیدل.

۲- د هغه دولت په وسله وال پوځ کی خدمت چی له افغانستان سره د جګړی په حال کی وی.

**دوه دیرشمه ماده:**

هغه بهرنی تبعه چی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ئی ترلاسه کړی وی، په بهر کی د استوګنی په وخت کی او یا د دغه قانون د پنځلسمی مادی په دریم جزء کی د استوګنی په درج شوی موده کی په افغانستان کی د افغانستان خلکوته د خیانت مرتکب شی د واکمنی محکمی په حکم د افغانستان اسلامی امارت له تابعیت نه بی برخی کیږی.

**دری دیرشمه ماده:**

د هغه شخص د مالونو او شتمنی په هکله چی د دغه قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامی امارت له تابعیت نه بی برخی کیږی د محکمی د حکم مطابق اجراآت تر سره کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلور دیرشمه ماده:**

د یوه شخص د تابعیت سلب، د ده د میرمنی او اولادونو پر تابعیت باندی اغیزه نه لری.

**پنځه دیرشمه ماده:**

هغه شخص چی د افغانستان اسلامی امارت تابعیت ئی له لاسه ورکړی وی، افغانی تابعیت ئی د غوښتنی له مخی د وزیرانو شوری له تصویب او د امیرالمؤمنین له توشیح وروسته اعاده کیږی.

## څلورم فصل

## په تابعیت پوری د اړوندو مسئلو د څیړنی لاری چاری

**شپږ دیرشمه ماده:**

د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت د ترلاسه کولو په هکله غوښتنلیک د بهرنیو چارو وزارت له لاری د امارت مقام ته وړاندی کیږی، د هغه شخص غوښتنلیک چی د اتلس کلنی عمر ئی نه وی بشپړ کړی، د هغه د قانونی ممثل له خوا وړاندی کیږی.

**اوو دیرشمه ماده:**

هغه شخص چی د افغانستان اسلامی امارت د تابعیت د ترلاسه کولو یا اعاده کولو لپاره غوښتنلیک ورکوی، د تابعیت ځانګړی پاڼه (انکیټ) ډ کوی او د خپل ځان په پیژندنی (هویت) پوری اړوند سندونه وړاندی کوی.

**اته دیرشمه ماده:**

د بهرنیو چارو وزارت اړوندی ځانګی او په بهر کی د افغانستان اسلامی امارت قونسلی او سیاسی نماینده ګی مکلفی دی چی د تابعیت په مسئلو پوری د اړوند غوښتنلیک د اخیستلو په وخت کی رسید ورکړی.

**نهه دیرشمه ماده:**

(۱) د افغانستان اسلامی امارت په تابعیت پوری اړوندی چاری د واکمن هیئت (کمیسیون) له خوا څیړل کیږی.

(۲) د افغانستان په اسلامی امارت کی په تابعیت پوری د اړوندو چارو په واکمن هیئت (کمیسیون) کی د ستری محکمی عدلیی وزارت بهرنیو چارو وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو د عمومی ریاست غړیتوب لری.

(۳) هیئت (کمیسیون)، د تابعیت په ورکولو پوری اړوند غوښتنلیکونه او وړاندیزونه په مقدماتی ډول څیړی، پایلی ئی امیرالمؤمنین ته وړاندی کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴) د تابعیت په پرېښودلو، اعاده کولو او سلبونو پورې اړوند غوښتنلیکونه او وړاندیزونه د هیئت (کمیسیون) له خواله څېړنې وروسته د وزیرانو شورې ته لېږل کېږي.

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) د تابعیت د ورکولو په هکله د امیرالمؤمنین تصمیم د فرمان په واسطه صادرېږي.

(۲) د تابعیت د اعاده کولو او پرېښودلو په هکله د وزیرانو شورې تصویب د امیرالمؤمنین له خوا توشیح کېږي.

## پنځم فصل

## وروستنی حکمونه

**یو څلوېښتمه ماده:**

د افغانستان اسلامی امارت او د بهرنی هیواد ترمنځ له نړیوالو تړونونو یا دوه اړخیزو مقاولو سره د دغه قانون د حکمونو د ټکر (تعارض) په صورت کی له اسلامی اصولو سره سم دوه اړخیزی مقاولی ته ترجیح ورکول کېږي.

**دوه څلوېښتمه ماده:**

دغه قانون د توشیح له نیټی نه نافذ او په رسمی جریده کی دی خپور شی او د دغه قانون په نافذیدو سره د افغانستان د جمهوریت د تابعیت قانون چی د ۱۳۷۰ هجری شمسی کال د کب د میاشتی په نهه ویشتمه نیټه د رسمی جریدی په ۷۶۴ ګڼه کی خپور شوی دی لغوه ګڼل کېږي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**